مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۷/۲۰

زما مظلوم افغانستان، زما مظلوم کابل

تېر کال دغه وخت ګران هېواد مظلوم افغانستان کې وم. یو فامیلي مې له هېواده راته ویل، دا وخت مه راځه، ګرمي ده. ما ویل، د افغانستان مې، هغه دي ګرمي یې لا جار سم، پرېږده دېر ویټامین (د) زیاد واخلم. هغه تېر سفر مې عین ۲۰۱۴ز کې ؤ. زه به حد اقل هر ۵ کاله یو وار پلارني وطن ته تلم اما د ۲۰۱۹ز کورونا او ۲۰۲۱ز د دولت سقوط د طالبانو په ذریعه دا هغه موانع ول، چې زه لس کاله پس هېواد ته ولاړ سم. زمونږ الوتکه (کام ایر) لس بجې د سهار د کابل جان پر هوایي ډګر کېناستله. هغه ساعت جوغد د معزز حاجیانو یو الوتکه هم له عربستان څخه راغلي وه، نو د بکسونو په اخیستلو کې سخته ګډوډي رامنځته سوله. کنه نور امارتي حکومت شه نظم بر قرار کړای ؤ، د پاسپورت چک او دخولي وهل شه په نظم او درنشت سره اجراء سول، کوم مشکل نه ؤ. زما د درانده بکس لپاره یو د میدان کارګر ماته راغی، چې زه تا سره کومک کوم. هغه یو مُحسن کس او غاشونه یې سره مات کس معلومېدلو. ما ورته وویل، د کوم جای یې او دلته څو کاله کار کوې؟ هغه ویل، زه د وردګو یم او ۳۰ کاله دلته کار کوم، بکس یې راسره وباسه او ما د (ایرو) پیسو یو لوت ورته ورکړ... هغه په خوښي لوټ ته وکتل، ما ورته وویل، واخله دا شه درونده شی ده، هغه په ډېره خوشالي لوټ په جېب ننباسه او ولاړ. باندې یوه خوږه فضا او ماته یوه خوندوره ګرمي وه، هیڅ پر ما بده نه لګېدله. نسبتاً اوږده لار مې د میدان د محوطې تر پایه ووهله. راغلي دوست سره مې ولیدل. هغه د ټکسیوان سره چنې د کرایې وهلې. ما ورته وویل، مه کوه هرڅه، چې وایي وریې که. هغه ویل، نه دا ډېر ظالم او مکار خلک دي، نه یې ورکوم. ما ځان سره فکر کاوه، چې دا زما مظلوم ولس د دوشمن له لاسه څومره عصبي او یو بل ته بد بین سوي دي... .ټکسي کې کېناستو. دوست ته مې وویل، ته باید حوصله او تحمل ولرې، زمونږ ولس سره د دوشمن خیانت او ظلم عین د (۲۴ جدي ۱۳۰۷ل) څخه، چې زمونږ غازي شاه امان الله (رح) یې رانه تباه کړ، تر نن پورې په مختلفو ذرایعو او بشرو کې روان ده، کنه زمونږ افغانستان یو شکلی وطن، یو شکلي مینه ناک او غیرتي خلک ول او دي. هغه وویل، «ایاز جانه، امان الله خان او د هغه غوندي خدمتګار شریف شخصیت او پاچا به بیا دا ولس په خوب هم ونه ویني... افسوس... دا خیانت، چې دغه شل وروستي کلونه، جنایتکارو خارجیانو (د سرمایې ظالمه نړۍ) د خپل غلام حکومت سره زمونږ پر بیچاره خلکو او وطن تحمیل کړ، زمونږ په معاصر تاریخ کې بې سارې ده.» زه لیکونکی یوه اونۍ کابل کې وم، یو سهار د خپل ماشومتوب د دور سیمې قلعچه -بیني حصار ته ولاړم. د ټانک لوګر نقطه کې پیاده سوم، ټانګ ته مخامخ مې د خپل لومړني مکتب (مکتب ابتدائیه شاه شهید) موقعیت ته نظر واچاوه، خو اوس هلته هغه تعمیر موجود نه ؤ او بل ساختمان درول سوی ؤ. بیا پورته مخ په جنوب ولاړم. خپل پخوانۍ زمونږ کور مې په سختي پیدا کړ او د فرقه مشر مرحوم نیک محمد خان په سرای، اوس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه ليکوال ټانک لوګر سيمه

د تيلو ټانک جوړ سوی ؤ. مثبته خبره دا وه، چې ټانک لوګر څخه تر بيني حصار پوري سړک ۴۰ متره جوړ سوی خو نيمکاره پروت ؤ، خو اوسني امارتي حکومت د چار اسياب پوري ورته د جوړلو پلان درلود، خو اوس هلته په ذرب سره کار روان ده... آفرين امارتي حکومت ته ... . د قلعچي سيمه خصوصاً د شکارګاه سيمه د تاريخي بالاحصار د جنوبي استقامت څخه د قلعه هوشمند خان د غره لمني په شمول، په دې سويه د پخپل سر کورونو د اعمار لپاره چور سوي ده، چې فقط يو ريشخندي ده، چې زما پر تاريخي پايتخت وهل سوي ده. بيا ببرته په مايوسي راوګرځېدم. ټانک لوګر ته نژدې يو سلماني ته ننوتلم او سر او ګيره مې رنګ کړل او څلور سوه افغانئ يې رانه مطالبه کړلې. سلماني اوس حمام هم لاره او نظافت په کې مراعات سوی ؤ. سلماني والا د لوګر دري ژبې او صميمي کسان ول، دوی هوشيار او قانع خلک معلومېدل او ويل يې دغه مو وطن او هېواد ده، بايد سازش او مقاومت وکړو، خارج کې هم ښادي نه سته ده. د ملګري کور مې په خيرخانه کې ؤ. هلته اوبه د نشت په حساب وې، خلکو د ټانکر څخه په پيسو اوبه رانيولې...، شه، يو کس د څشاک او تشناب او صفايي لپاره روزمره معينو مقدار اوبو ته ضرورت لري...؟!. نو دا روزمره ضرويات د ټانکر په اوبو رفع کېدلای سي...؟!. نو د کابل څخه پښې سپکې کړې او بيا پلارني وطن، خوست ته ولاړم. په دغه موده کې زه د کابل مختلفو سيمو ته ولاړم. هغه شعوري خيانت او ظلم، چې دغو شل کلونو د ناتو د اشغال په بهير کې پر افغانستان او بيا زما پر کابل تحميل سوی، صرف ګوته په غاښ ورته ودرېدم. ما يوه شپه د يوه دوست کره د قرغې په سيمه کې د يوه لوی ملي چورګر او خاين (شهرک ای ملا عزت) کې تېره کړله. سهار مل مې ټکسي ونيو او موقعيتونه مې دقيق کتل. شروع د چوک ارغندي، کمپني څخه بيا د مظلوم کابل تر شرق د تنګ غارو تر غره پوري دا ساحه مې ځانته مجسمه کوله، يقين وکړې، چې دغه واټن کې، غر او سمه چور سوي دي! چا چې دغه فاصله کې حتی يو کوچنی خالي کونج پيدا کړئ، بس هلته يې د عصر حجر يو کور ځانته جوړ کړای ده. فقط يوه سرپناه، ؟ کابل خو کابل، کابل خو کابل! شه، آيا دغه د کابل غرنی کاسه د دومره نفوس (۷ ميليونه)، تحمل او ظرفيت لري؟ آيا دغه ساحه کې دومره اوبه د خلکو د ژو د کابل شار د غرونو د پخپل سر کورو يو منظرما د اماني ويارمن عصر يو عکس (احتمالاً د استاذ کاظم په يوه مقاله کې وليد)، چې د کابل د آسمايي او شير دروازه د غرونو په لمنو کې حتی يو پخپل سر کور موجود نه ده، ځکه هغه دم دغه ملک او دغه وطن يو مسوول حکومت او صداقمند مشر او پاچا لاره.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اماني دولت يوه مخصوصه نظامنامه (ابنيه دارالامان) په نوم جوړه کړي وه، چې د يوه مکمل عالي او ټولو د ژوندانه د ضروياتو پر بنا سمبال يو پايتخت په کې پلان سوی ؤ. اما حسود او مکار بې رحمه انګليسي استعمار د دوو خطرناکو ملي خاينانو بچه سقا او نادر خان په ذريعه دا ډېر ارزښتناک وطن پال بهير له ببخه منهدم کړ. زه کوم ښاري مهندس او انجنير نه يم، اما ماته د موجود کابل د دغو خواشينوونکي منظر په ليدو، يو فکر او تشويش راپيدا سو، چې دغه پخپل سر جوړ سوي کورونه، چې د کابل په کاسه کې د غرونو په لمنو کې اعمار سوي دي، دا هر کور خو بيت الخلاء لري، که دا کابل شار په سمه ټول مدرن ترتيب او تنظيم سي، نو له دغو کورو څخه د مواد فاضله پرازيت لکه مچان، آميب، جارديا او نور خو د شار نورو او هغه اوارو سيمو ته تشريف راوړي، او د سمې خلک په مختلفو مريضيو مبتلا کوي! نو د دغو چور شويو ساحو د کورونو د حل لاره به کومه وي؟! ننې امارتي حکومت لګيا ده، په فعاله او جدي توګه، ښاري خدمات د حکومت په حيث وړاندي کوي. زه حيران يم، چې امارتي حکومت به دا معضله څنګه حل کوي، ځکه اساس او بنسټ د مظلوم کابل عين د غازي اعليحضرت امان الله خان د سقوط (۱۴ جنوري ۱۹۲۹ز) ورکولو څخه پس تر نن پورې خراب او په ظلم او خيانت کاريو ابښودل سوی ده. بناً زه اوس نه پوهيږم، هيله مند اووسم او که ناهيلي خپله کړم.

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوري** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ